السنّة النبوية وعلومها
www.sunnah.global

# کله چې زه (اسرا او معراج) ته پورته کړی شوم، نو د خلکو په يوې ډلې تېر شوم چې په اوسپنيزو نوکانو يې د خپلو مخونو او سينو غوښې شوکارې کولې

له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «کله چې زه (اسرا او معراج) ته پورته کړی شوم، نو د خلکو په يوې ډلې تېر شوم چې په اوسپنيزو نوکانو يې د خپلو مخونو او سينو غوښې شوکارې کولې نو ما وويل چې: اې جبرائيله دا څوک دي، هغه وويل: دا هغه خلک دي چې د خلکو غوښې خوري (غيبت يې کوي) او په عزتونو کې يې غږيږي».
[حسن] [ابو داود روايت کړی دی]

نبي صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې: کله چې هغه د اسراء او معراج په شپه آسمان ته پورته کړی شو، نو د خلکو په يوې ډلې تېر شو چې اوسپنيز نوکان يې لرل او په هغو سره يې د خپلو مخونو او سېنو غوښې توږلې او څيرې کولې، نو هغه له جبرائيل عليه السلام څخه وپوښتل چې: دي کسانو څه کړي چې داسې عذاب ورکول کېږي؟ جبرائيل عليه السلام وويل: دا هغه کسان دي چې دخلکو غيبت کوي او د هغوی په عزتونو کې ناحقه خبرې کوي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4229

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee